(c) ketabton.com: The Digital Library



اتحاد، که څه هم چې په دوهمه عمومي جګړه کې ئې ډېر تاوانونه ولیدل، د بل قطب د لیډر په توګه رامنځته سو. شوروي اتحاد له اقتصادي پلوه هیڅکله هم د امریکې د متحده ایالاتو سیال نه وو، مګر شوروي اتحاد یوه ډېره لویه نظامي قوه او همدارنګه یوه تهدیدوونکې آیډیالوجي درلوده چې په کال ۱۹۴۹ کې یې اټومي وسلې هم لاسته راوستلې. هغه ناآرامه اتحاد چې د دوهمې عمومي جګړې په دوران کې د واشنګټن او ماسکو تر منځ موجود وو، ډېر ژر خپل ځای و ښکاره خصومت ته ورپرېښود. د دوی تر منځ رقابت په رشتیا سره هم نړۍ پر دوو متخاصمو برخو ووېشله او د ساړه جنګ cold war دوران پیل سو.

تاریخ پوهان اوس هم د ساړه جنګ پر عواملو باندي بحث کوي، مګر موږ ویلای سو چې بېلابېلو اقتصادي او سیاسي مصلحتونو او همدارنګه د قواوو د توازن د پخواني ساختمان د ړنګېدلو په نتیجه کي د قدرت د خلا منځته راتلو یو دوه قطبي سیستم رامنځته کړ چې په هغه کي د نړۍ د سیاست زیاته برخه د دوو سترو قدرتو superpower تر منځ د مقابلې پر محور راڅرخېدله. د امریکې متحده ایالاتو د شوروي او کمونیزم د تهدید په وړاندي د محدودیت containment دکتورین په رامنځته کولو سره عکس العمل وښود. د دې پالیسۍ له مخي د امریکې متحده ایالاتو د شوروي اتحاد او نورو کمونیستي هیوادو په مقابل کي په نړیواله سطحه مخالفت کاوه. د دې کار لپاره واشنګټن یو شمېر سیمه ییز تړونونه حمایه او منځته راوړل. یو له دې مهمو تړونو څخه د شمالي اتلانتیک تړون North Atlantic Treaty Organization (NATO) دئ چې په کال ۱۹۴۹ کي تأسیس سو. شوروي اتحاد ئې په جواب کي په کال ۱۹۵۵ کي د وارسا تړون Warsaw Treaty Organization جوړ کړ. دواړو خواوو د پرمختلونکو هیوادو، چې د دریمي نړۍ په نوم شهرت لري، د ملاتړ د تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسه کولو لپاره هلي ځلي کولې. په دې کمونیستي او ضد کمونیستي مسابقه کي د شوروي او امریکې وسلې او پیسې و بېلابېلو هیوادو او یاغي ګروپونو ته ورشېوه سولې. د دوی تر منځ د ډېر سخت رقابت سره سره، بیا هم د اټومي جګړې له بېري دواړو خواوو له مخامخ مقابلې څخه ډډه کوله. د ساړه جنګ په دوران کي تر ټولو ډاروونکې پېښه هغه وخت رامنځته سوه چي په کال ۱۹۶۲ کي شوروي اتحاد په کیوبا کي د زروي میزایلونو ځای پر ځای کول پیل کړل، او د امریکې متحده ایالاتو جمهور رئیس جان کینډي د اټومي جنګ د خطر په منلو سره شوروي اتحاد مجبور کړ چي خپل میزایلونه له کیوبا څخه وباسي.

د محدودیت د دکتورین یوه نتیجه په ویټنام کي د امریکې د متحده ایالاتو راګیرېدل وو. ویټنامي قواوو د نېشنلیست/کمونیست هوچي مین په مشري د فرانسې استعماري فوج ته په کال ۱۹۵۴ کي ماته ورکړه او استقلال ئې لاسته راووړ. مګر ویټنام په شمال کي د هوچي مین د قواوو او په جنوب کي د یو غیر ډیموکراټیک لوېدیځ پلوه حکومت تر منځ وېشل سوی وو. د یو واحد ویټنام له پاره مبارزه ډېر ژر پیل سوه، او د امریکې متحده ایالاتو په کال ۱۹۶۴ کي نظامي مداخله وکړه. جګړه ډېر ژر د امریکایانو لپاره یوه لویه روحي ضربه وګرزېدله او له جنګ څخه ستړیا د امریکې متحده ایالات دې ته وهڅول چي له ویټنام څخه ووزي. په نتیجه کي ډېر ژر په کال ۱۹۷۵ کي د هوچي مین بریالیو قواوو ویټنام سره متحد کړ.

## د دوه قطبي سیستم پای:

د۱۹۷۰ او۱۹۸۰ کلونو په اوایلو کي د واشنګټن او ماسکو تر منځ روابط، په لومړي سر کي په کراره او په وروسته کي په چټکۍ سره تاوده سول. میخایل ګورباچوف په کال ۱۹۸۵ کي د شوروي جمهور رئیس سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يو لړ داسي ريفورمونه ئې رامنځته کړل چي د شوروي اتحاد په سياسي ساختمان کي ئې اختناق اوپه اداري او اقتصادي ساختمان کي ئې ملاماتوونکې بيوروکراسي رالږ. کړه. که څه هم د ميخايل ګورباچوف اهداف محدود وه مګر د کمونيستي شوروي اتحاد له پاره نور نتايج پر بنا سول او داسي قواوي رااېله سوې چي د ده تر کنټرول وتلي وې.

د شوروي د ملاماتوونکو نظامي مصارفو د لږولو، د تجارت د پراختيا او نورو اقتصادي ګټو د په لاس راوړلو په منظور، ګورباچوف د لوېديځ سره د ښو مناسباتو د ټينګولو په لټه کي سو. د نورو کارونو تر څنګ ګورباچوف اعلان وکړ چي شوروي اتحاد به د ختيځي اروپا هيوادونه پرېږدي چي خپلي داخلي پاليسۍ تعقيب کړي. په جواب کي دې هيوادونو ډېر ژر دشوروي له مداره ځانونه خطا کړل. تر ټولو په زړه پوري دا وه چي د ختيځ المان کمونيستي دولت ډېر ژر سره وپاشل سو. د ختيځ المان محافظينو د برلين د ديوال، چي د برلين ښار ئې پر ختيځ او لوېديځ سره وېشلی او د ختيځي او لوېديځي نړۍ د وېش سمبول وو، د نظارت پوستې ايله کړې. مظاهره چيانو او نورو خلکو د دېوال زياته برخه په خپله ونړوله. ختيځ المان د کال ۱۹۹۰ د اکتوبر په مياشت کي خپل ځان ړنګ کړ، قلمرو ئې د لوېديځ المان په لاس کښېووت او يو نوی متحد المان منځته راغي. په سيمه کي نور کمونيستي دولتونه هم راونړېدل او په کال ۱۹۹۱ کي د وارسا پکټ (پيمان) هم ړنګ سو. که څه هم چي د چا زړه ته نه لوېدله، شوروي اتحاد هم ورپسې سو او د ۱۹۹۱ کال د ډسمبر د مياشتي پر ۲۵ مه ګورباچوف د هغه هيواد د جمهور رئيس په توګه چي نور ئې وجود نه درلود استعفی وکړه. په همدې مازديګر د شوروي اتحاد د سوټک او لور سور بيرغ د اخيري ځل له پاره د کرملين له څلي راکښته کړه سو او پر ځای ئې د روسيې سور، سپين او شين رنګه بيرغ پورته کړه سو. شوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتحاد نور وجود نه لري.

## په شلمه پېړۍ کي د امنیت مسئله:

په نړي کي اوس هم عنعنوي لار دا ده چي هر دولت د خپل ځان د ساتني مسئولیت پر غاړه لري او هڅه کوي دومره نظامي قوت ولري چي خپلي ملي ګټي په وساتلای سي. پر یوه هیواد د یرغل په صورت کي ښایي نور هیوادونه د هغو سره مرسته وکړي، مګر دا هغه وخت پېښېږي چي دا کار د مرسته کوونکي هیواد د ملي ګټو سره سمون وخوري. د مثال په توګه، د امریکې متحده ایالاتو په کال ۱۹۹۱ کي د کویټ سره مرسته وکړه، مګر دا کار ئې تر ډېره حده د تېلو له پاره وکړ. که چېري کویټ مېوه جات تولیدولای، نو دا امکان ډېر لږ دئ چي نیم ملیون امریکایي عسکرو به د عراقي یرغل څخه د کویټ د خلاصون له پاره وردانګلي وای.

د ځان ساتني مسئولیت پر خپله غاړه اخیستل ځانته ګټي لري، خو ځیني تاوانونه هم ورسره تړلي دي. یو له دې تاوانو څخه د نظامي قوې درلودلو زیات مصرف دئ. سره له دې چي سوړ جنګ پای ته رسېدلی دئ، بیا هم د کال ۱۹۹۲ او د ۲۰۰۵ تر منځ د نړي تجمعي نظامي مصارف نژدې ۱۱,۴ تریلیونه ډالرو ته ورسېدل. یوازي د امریکې د متحده ایالاتو برخه ۴,۴ تریلیونه ډالره ته ورسېدله. بل تاوان ئې دا دئ چي مؤثریت ئې مشکوک دئ. منقدین دا خبره کوي چي «ملي امنیت» په خپله یو تناقض دئ، ځکه چي په شلمه پېړۍ کي ۱۱۱ملیونه خلک په جګړو کي وژل سوي دي. دا ګڼګس کوونکي شمېره د هغو کسانو تر شمېرې چي په ۱۹ پېړۍ کي وژل سوي دي ۶ واره زیاته او د هغو کسانو تر شمېرې چي په ۱۸ پېړۍ کي وژل سوي دي ۱۶ واره زیاته ده. که د نړیوال نفوس زیاتوالی هم په حساب کي راولو، بیا هم په هره پېړۍ کي تر تېري پېړۍ زیات خلک په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړو کې وژل سوي دي. سربېره پر دې، د ذروي وسلو د منځ ته راتلو معنی دا ده چې بله لويه جګړه به د ټول بشريت د تباهۍ سبب سي. د عامه تباهۍ وسلې weapon of mass destruction چې د بيالوجيکي، کيمياوي، راډيولوجيکي او ذروي وسلو په شکل رامنځته سوي دي، نور هم د راتلونکي لويې جګړې بېره زياتوي.

## په يوويشتمه پېړۍ کې جهاني اقتصاد:

د دوهمې عمومي جګړې را په دېخوا يو لړ تمايلات رامنځته سوي دي چې پر بين المللي سيستم باندې ئې تأثيرات ښندلي دي. اقتصادي وابسته ګي او د څو محدودو ثروتمندو او زياتو غريبو هيوادو تر منځ نابرابري هغه دوه مهم تمايلات دي چې زياته توجه ئې جلب کړې ده.

## اقتصادي وابسته ګي:

يو تمايل چې تر دوهمې عمومي جګړې راوروسته ئې ډېر زيات انکشاف موندلی دئ هغه اقتصادي وابسته ګي ده. په کال ۲۰۰۶ کې د مالونو او خدماتو تبادله تر ۱۴ ټريليونه ډالره زياته وه؛ يوازې د امريکې د متحده ايالتو دارائي ګاني assets (لکه شرکتونه، ملکيتونه، اسهام) په نورو هيوادونو کې ۱۱,۱ تريليونه ډالرو ته رسېږي او د امريکې په متحده ايالتو کې د خارجيانو دارايي ګاني تر ۱۳,۶ تريليونه ډالره زياتې دي؛ اوس هره ورځ تقريباً دوه تريليونه ډالره اسعار د هيوادونو تر منځ تبادله کېږي. د هيوادونو تر مينځ د تجارت، سرمايه ګذارۍ او اسعارو د دومره آزاد جريان نتيجه دا ده چې هيوادونه د خپل سعادت او برياليتوب له پاره دومره زيات يو له بله سره تړلي دي چې د يوه واحد يا ملي اقتصاد national economics په هکله خبري کول ښايي زموږ څخه لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکه کړي.

د اقتصادي وابسته ګۍ سره د چلند کولو له پاره، په نړۍ کي يو لړ نړيوال او سيمه ييز اقتصادي سازمانونه رامنځته سوي او تقويه سوي دي. مهم نړيوال اقتصادي سازمانونه جهاني بانک World Bank، بين المللي وجهي صندوق International Monetary Fund او د تجارت نړيوال سازمان World Trade Organization (WTO) دي. د زياتو سيمه ييزو اقتصادي سازمانو په لړ کي د اروپا اتحاديه European Union (EU)، د جنوب ختيځي آسيا د ملتونو ټولنه Association of Southeast Asian Nations( ASEAN) او په جنوبي امريکا کي جنوبي مشترک بازار Southern Common Market مهم سازمانونه دي.

مخکي له دې چي د اقتصادي وابستګۍ بحث پای ته ورسوو، دې خبري ته بايد پام وکړو چي د اقتصادي ګلوبلايزېشن لاره هواره نه ده او آينده ئې هم روښانه نه برېښي. د هيوادونو تر منځ تجارتي او پولي تشنجات وجود لري. ډېر خلګ د دې مخالف دي چي د هيواد استقلال ئې ملګرو ملتونو، د تجارت نړيوال سازمان او نورو بين المللي سازمانو ته ورتسليم سي. د ځينو خلګو سره بيا دا تشويش موجود دئ چي آزاد تجارت لويو څو ملتي multinational شرکتونو ته لاره خلاصه کړې ده چي د کارګرو د حقوقو، د توليد د خوندي توب product safety او د سالم محيط د قوانينو څخه سرغړونه وکړي.

## د شمال او جنوب تر منځ اقتصادي نابرابري:

اقتصادي شرايطو د نړۍ د نفوسو يو اقليت چي په يو څو محدودو ثروتمندو هيوادو کي اوسېږي او يو زيات شمېر خلګ چي د نړۍ په غريبو هيوادو کي اوسېږي، سره بېل کړي دي. د دې دوو اقتصادي ساحو د بېلولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له پاره د شمال او جنوب اصطلاح په کار اچول کېږي. شمال د ثروتمندو او صنعتي هیوادو، چې د اقتصادي پلوه پرمختللي بلل کېږي او عموماً په شمالي نیمه کره کې پراته دي، نماینده ګي کوي. په مقابل کې بیا جنوب د غریبو هیوادو چې د اقتصادي پلوه لږ پرمختللي بلل کېږي او زیاتره ئې په جنوبي نیمه کره کې پراته دي، نماینده ګي کوي.

که څه هم چې دا تقسیم بندي ډېره دقیقه نه ده، مګر تریخ واقعیت دا دئ چې د شمال او جنوب تر منځ یوه پراخه اقتصادي نابرابري موجوده ده. په ۲۰۰۵ کال کې، د شمال د هیوادونو د سړي پر سر جي این پي per capita GNP ۳۵۱۳۱ ډالره وه، چې د جنوب د سړي پر سر د جي این پي، چې ۱۷۴۶ډالره وه، شل چنده (۱:۲۰) زیاته وه. ښکاره خبره ده چې په لږ پرمختللو هیوادونو کې د ډېرو شیانو بیه تر پرمختللو هیوادو کښته ده. مګر د خرید د قوې د په نظر کې نیولو سره بیا هم د شمال او جنوب تفاوت تر شپږ چنده زیات دئ(۱:٦).

دا وچې احصائیې ځکه مهمې دي چې د ثروت خلا که ۲۰ چنده او یا ٦ چنده وي، د لږ پرمختللو هیوادو له پاره ویرانوونکي نتایج په بر کې لري. په لږ پرمختللو هیوادو کې تر پنځه کلنۍ مخکې د کوچنیانو د مړینې امکان ۱۲ واره تر شمال زیات دئ. د شمال او جنوب خلګ لکه بالکل چې په جلا جهان کې ژوند کوي. په شمال کې تر زیاتې اندازې اقتصادي تضمین، سواد او صحي خدمات وجود لري. بالعکس، په جنوب کې د خلګو ژوند زیات وخت د غربت، بېسوادۍ او ناروغیو سره ملګری وي.

په جنوب کې ډېر خلګ د خپل غربت پړه پر پخواني استعماري فشار باندې اچوي او په دې عقیده دي چې پرمختللي هیوادونه اوس هم هڅه کوي لږ پرمختللي هیوادونه د اقتصادي او سیاسي پلوه کمزوري وساتي څو وکولای سي خپل استعماري تسلط ته دوام ورکړي. که څه هم چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول احساسات د ترووریزم حقانیت نه سي ثابتولای، مګر دا مهمه خبره باید په نظر کي ولرو چي د امریکې پر متحده ایالاتو باندي د سپټمبر د یوولسمي د حملې د قهر تر شا له فکتورونو څخه یو هم په لږ پرمختللو هیوادو کي بېساری غربت دئ.

## په یوویشتمه پېړۍ کي بشري حقوق:

پر بشري حقوقو باندي تجاوزونو د بشري تاریخ په اوږدو کي وجود درلود. کوم شی چي توپیر لري هغه دا دئ چي نړۍ اوس په پراخه توګه پر بشري حقوقوباندي د تجاوزونو په غندلو او د هغوی په هکله ئې په عمل کولو پیل کړي دئ. بین المللي محکمې international tribunals هڅه کوي هغه افراد چي په جنګي جرایمو او د بشریت په وړاندي جرایمو تورن دي په سیری لیون، راوندا او بالکان کي محاکمه کړي. تر ټولو مهمه دا ده چي د قانون لاسونه لوړو دولتي مقاماتو ته هم ورغزېدلي دي. د یوګوسلاویا پخواني جمهور رئیس، سلوبودان میلاسویچ، مخکي له دې چي په کال ۲۰۰۶ کي د زړه د ناروغۍ له امله په بندي خانه کي مړ سي، په بالکان کي د جنګي جرایمو په تور تر محاکمې لاندي وو. همدارنګه، د لایبریا پخواني جمهور رئیس، چارلز ټېلر، د ده دهیواد د داخلي جګړو په دوران کي په ۶۵۰ جنګي جرایمو تورن سوی او په بین المللی جنایي محکمه International Criminal Court کي، چي د هالنډ د هاګ په ښار کي موقعیت لري، تر محاکمې لاندي دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم فصل

## ګلوبالیزم
## Globalism

که څه هم چي د ګلوبالیزم مفهوم ورځ تر بلي موږ ته اشنا کېږي او په دې وروستیو لسیزو کي په پراخه پیمانه منل سوی دئ، مګر بیا هم نوی مفهوم نه دئ. په حقیقت کي د ګلوبالیزم مفکوره لرغوني ریښې لري. په غربي کلتور کي د ګلوبالیستي افکارو سرچینه و رواقیونوStoicism ته رسېږي. دا فلسفه په لرغوني یونان او روم کي د ۳۰۰ قبل المیلاد څخه بیا تر ۲۰۰ بعدالمیلاد پوري وده کړې وه. رواقیونو ځانونه دبشریت جزء باله، نه د یوه یا بل واړه سیاسي ګروپ غړي.

رواقیونو ته ورته نوري لرغوني غیرغربي عنعنوي فلسفې د بودیزم او هندویزم مذهبونه او د کانفیوشنیزم Confucianism فلسفه ده. د مثال په توګه، سیدارتا ګواتاما چي په بودا سره شهرت لري، ټینګار کاوه چي موږ باید یو جهاني [عالم شموله] لید او نظر ولرو.

که څه هم چي د رواقیونو فلسفه مخ د انحطاط پر خواورولغښته، مګر مفهوم ئې بیا هم تر پېړیو پوري ژوندی پاته سو. د منځنیو پېړیو Middle Ages په دوران کي، د روم کاتولیک کلیسا یو ګلوبالیستي قدرت وو. ګلوباليستي افکار د Thomas Pine توماس پېن او د اتلسمي پېړی د نورو انقلابیونو په فلسفه کي ښکاره دي. امریکایان توماس پېن د یوه وطن پرسته انقلابي په توګه په یاد لري، مګر ده خپل سیاسي هویت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایي توب کي نه څرګنداوه او ځان ئې د (نړۍ تبعه) باله.

یو بل فیلسوف، ایمانویل کانټ Immanuel Kant، د سولي له پاره د بین المللي همکارۍ مفکوره نوره هم پسې پراخه کړه. دی په خپل یوه اثر کي لیکي چي: "هیوادونه باید د وحشي ګرۍ د بې قانونه حالت څخه راووزي او په یوه داسي ولسي اتحادیه federation کي داخل سي چي په هغه کي هر دولت خپل امنیت ... د یوه متحد قدرت او قانوني تصمیمونو څخه لاسته راوړي". د نونسمي پېړۍ د جرمني فیلسوفانو فریدریک انګلز او کارل مارکس په نظریاتو کي هم ډېر قوي مافوق ملتي transnational [ترانس نېشنل] عناصر وجود لري. دوی په دې عقیده وه چي ټول بشري وېش او تقسیم پر اقتصادي طبقه ولاړ دئ او دولت د بډایي بورژوازي طبقې په لاس کي یوه وسیله ده چي پر پرولتاریا طبقې باندي د ظلم له پاره کار څني اخیستل کېږي. کمونیسټ مانیفست (۱۸۴۸) اعلان کوي چي «کاریګران وطن نه لری». مارکسیستي افکار له زوال سره مخامخ سول مګر ګلوبالیستي افکارو په دې وروستیو لسیزو کي نور هم زور پسي اخیستی دئ.

## ګلوبلایزېشن

د ګلوبلایزېشن له لاري د ګلوبلیزم پر مختګ ښایي مجرد abstract مفاهیم ښکاره سي، مګر په واقعیت کي زموږ له پاره د هري ورځي پدیدې دي. هغه کیبورډ keyboard چي د دې کتاب په ټایپولو کي کار څني اخیستل سوی دئ، په تایلینډ کی جوړ سوی وو، ماوس ئې له چین څخه او مانیټور ئې له جنوبي کوریا څخه راغلی دئ. د ورځي په جریان کي ښایي موږ د بېلابېلو هیوادونو د ویب سایټو سره سروکار لرو. [د امریکې] په پوهنتونو کي د نړۍ د بېلابېلو هیوادونو زده کوونکي زده کړه کوي. که

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي په دې هکله فکر وکړئ، ګلوبلايزېشن تر هغه اندازې چي موږ فکر کوو لا زيات ستاسي په ورځني ژوند کي نغښتی دئ.

## د ګلوبلايزېشن د چټک پرمختګ فکتورونه:

تر يوه حده ويلای سو چي ګلوبلايزېشن لرغونی تاريخ لري او له هغه وخت راهيسي وجود لري چي لومړنيو منزوي قبيلو يو له بله سره تجارت او راکړه ورکړه پيل کړه. مګر له بلي خوا، ګلوبلايزېشن د اوسني عصر يوه پديده ده چي په تېرو۲۰۰ کلونو کی، په تېره بيا تر دوهمي عمومي جګړې وروسته ئې په بېساري چټکتيا سره پرمختګ کړی دئ. د ګلوبلايزېشن موډرن سرعت د دوو فکتورنو محصول دئ: تکنالوجيکي پرمختګونه او حکومتی پاليسی.

تکنالوجيکي پرمختګ د تجارتي مالونو، پيسو، معلوماتو، خلګو او مفکورو د انتقال سرعت ډېر زيات کړی دئ. ښکاره خبره ده چي خلګ، پيسې، کلتور او علم له ډېر لرغوني وخته تر سياسي سرحدو تېر سوي دي، خو له پخوا سره ئې توپير د ګلوبلايزېشن د پرمختګ په چټکتيا کي دئ. د تاريخ تقريباً په سلو کي ۹۰ مهم تکنالوجيکي پرمختګونه د ۱۸۰۰ع کال راهيسي منځته راغلي دي. انترنټ، جټ الوتکي او نورتکنالوجيکي پرمختګونه دي چي نړۍ په ډېري چټکۍ سره ګلوبلايزېشن ته ورپوري وهي.

حکومتي پاليسيو هم، په تېره بيا په اقتصادي برخه کي، د ګلوبلايزېشن په پر مخ بېولو کي مرسته کړې ده. تر لومړۍ عمومي جګړې وروسته، هيوادونو ډېره هڅه وکړه چي د خارجي رقابت څخه خپل اقتصاد پر وارداتو باندي د لوړو ګمرګي تعرفو [ګمرکي محصول] د وضع کولواو د اسعارو د ازادي تبادلې د مخنيوي له لاري وساتي. په پس منظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې، پالیسي جوړوونکي دې نتیجې ته رسېدلي دي چې دا یو فاجعه آمېزه روش وو. په۱۹۲۰ع کلونو کې، د یوروپ زیاته برخه په اقتصادي اخ و ډب اخته وه، او د لسیزي په پای کې ئې اقتصاد راونړېدی. د ۱۹۲۹ او ۱۹۳۲ ع کلونو په منځ کې د اروپا صنعتي تولید په سلو کې ۵۰ راولوېدی او بېکاري په سلو کي ۲۲ ته جګه سوه. په ۱۹۲۹ ع کال کې د امریکې د متحده ایالاتو د اسهامو بازار راونړېدی او ورپسې د امریکې او همدارنګه د جاپان او نورو هیوادو اقتصاد سره وچاودی. نړیوال تجارت له مځکي ووهل سو او نړۍ و ستر اقتصادي رکود Great Depression ته ورارتا وسوه. د ۱۹۲۰ کلونو په دوران کي فاشیست ډیکتاتور بنیتومیوسولیني Benito Mussolini په ربړېدلې ایټالیا کې قدرت ته ورسېد او د ستر اقتصادي رکود په دوران کي آدولف هیټلر او نور فاشیستي ډیکتاتوران په جرمني، جاپان او هسپانیا کی قدرت ته ورسېدل. دوهمه عمومي جګړه د خپل ټولو ویجاړیو او فجایعو سره ورپسې پېښه سوه. ډېرو تحلیلګرانو دا استدلال کاوه چې تر لومړۍ عمومي جګړې وروسته بندیز لګوونکي اقتصادي پالیسیو اقتصادي رکود منځته راووست چې فاشیزم ته ئې لار خلاصه کړه، فاشیزم په خپل وار دوهمه عمومي جګړه منځته راوړله .

د دوهمي عمومي جګړې د علتونو د تحلیل پر اساس، تر جنګ وروسته پالیسي جوړوونکو داسي پلانونه رامنځته کړل چې د راتلونکو نړیوالو ټکرونو او تصادماتو مخه ونیسي. په اقتصادي برخه کې، د امریکې د متحده ایالاتو په مخکښې، د تعرفاتو او تجارت عمومي موافقت نامه General Agreement on Tariffs and Trade (GATT) او په همدې نامه یو پیمان او سازمان هم منځته راغی چې وروستی هدف ئې د هغو تجارتي ممانعتونو او بندیزونو له منځه وړل وه چې د دوهم عمومي جنګ ملامتیا ورپه غاړه وه. (وروسته دا سازمان د نړۍ د تجارت سازمان the

(c) ketabton.com: The Digital Library



World Trade Organization, WTO په نوم ونومول سو). پالیسي جوړوونکو همدارنګه بین المللي وجهي صندوق International Monetary Fund (IMF) تأسیس کړ.

## د ټرانسپورټېشن او کمیونیکېشن ګلوبلایزېشن:

د ګلوبلایزېشن اوسنی پرمختللی حالت د هغه تکنالوجیکي پېشرفت نتیجه ده چي په پراخه پیمانه تولیدات او خلګ تر ډېرو لیري فاصلو پوري په ډېر سرعت سره انتقالولای سي. همدارنګه، ګلوبلایزېشن پر هغه تکنالوجۍ تکیه دئ چي موږ په دې توانوي چي د ټولي نړۍ هر ګوټ ته په ډېري چټکۍ او اسانۍ سره ډېټا، تصویر، لیکلي توري او اواز [صوت] ولېږو.

## نړیوال ټرانسپورټېشن [حمل ونقل]:

موډرن ټرانسپورټېشن انسانان او د هغوي تولیدات په دومره زیات حجم او په دومره زیات سرعت له یوه هیواد څخه تر بل هیواد پوري انتقالوي چي ډېر لږ وخت مخکي ئې تصور نه سوای کېدای. بحري ټرانسپورټېشن ئې ښه مثال دئ. د ۱۸۰۰ ع په نیمایي کلونو کي د نړۍ مشهوره تجارتي بېړۍ فلایینګ کلاوډ Flying Cloud وه چي ۲۲۹ فوټه اوږدوالی ئې درلود. اوس په بحر کي د جاهری وایکنګ Jahre Viking په شان د تېلو انتقالوونکې بېړۍ چلېږي چي اوږدواله ئې ۱۵۰۴ فوټه ته رسېږي. دا بېړۍ دومره لویه ده چي کارګران ئې له یوه ځایه څخه تر بله ځایه پر بایسکلانو ځي. تقریباً ۲۸۰۰۰ تجارتي بېړۍاو د تېلو ټانکرونه څه دپاسه ۷۳۳ ملیونه ټنه مالونه انتقالوي. دا لویي هیولاوي (اشاوي) نه یوازي دا چي زیات تجارتي مالونه له یوه ځایه بل ته انتقالوي، بلکي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمل ونقل د قیمت په راکښته کولو سره ئې نړیوال تجارت نور هم پسې پراخ کړی دئ. په ۲۰۰۶ کال کې، د مثال په توګه، د منځني ختیځ څخه د امریکې تر متحده ایالاتو پوری د یوه ګیلن تېلو د انتقال بیه یوازې درې سنټه وه.

په حمل و نقل کې تکنالوجیکي پرمختګ له یوه ځایه څخه بل ته د انسانانو په چټک انتقال کې هم مهم رول لوبولی دئ. بین المللي مسافرت نن ورځ بالکل یو عادي کار ګرزېدلی دئ. هر کال په سلهاوو میلیونه مسافرین له یوه هیواد څخه بل ته په څو ساعته کې رسېږي.

## نړیوال کمیونیکېشن:

پر بین المللي روابطو باندي د موډرن کمونیکېشن تأثیرات ډېر زیات دي او په تېره بیا د یوې نیمي پېړۍ په جریان کې ډېر خارق العاده پرمختګ پکښې راغلی دئ. ټلیګراف، عکاسي، راډیو، د پېښو فیلم اخیستل، ټلیفون، ټلویزیون، فاکس، انټرنیټي اړیکي او ایمېل ئې یوازي یو څو مثالونه دي. د کمیونیکېشن د پراخوالي محاسبه کول ډېر ګران کار دئ. مګر که د بین المللي تلیفون له لاري یو له بله سره اړیکي نیول د مثال په توګه وګورو، نو به د کمیونیکېشن په پرمختګ باندي پوه سو. د۱۹۹۱ع څخه بیا تر ۲۰۰۵ ع کال پوري د بین المللي ټلیفون دقیقې له ۴۰ بلیونو څخه ۱۴۰ بلیونو ته زیاتي سوي دي. [یعنی په ۲۰۰۵ کال کي خلګو د بین المللي ټلیفون له لاري ۱۴۰ بلیونه دقیقې یو له بله سره تماس نیولی دئ].

د کمیونیکېشن په برخه کي د تکنالوجیکي انقلاب له برکته، اوس د نړۍ په هر ګوټ کي ډېر خلګ خپل خبرونه له یوې واحدي منبع څخه لاسته راوړي. ښکاره مثال ئې سي این این CNN دئ چي تقریباً د نړۍ هر ګوټ ته رسېدلی دئ او په نهو ژبو خپروني کوي. که سي این این و نړۍ ته د پېښو او شیانو امریکایي لید perspective وړاندي کوي، غیر امریکایی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلويزيوني شبکې بيا خارجي ليد د امريکې ټولني ته وړاندي کوي. د الجزيرې ټلويزيوني شبکه، چي په ۱۹۹۶ کال کي ئې له قطر څخه په عربي ژبه خپروني پيل کړې اوس ئې، د نورو شيانو تر څنګ، د اوسامه بن لادين د صوتي او ويديويي کسټونو په خپرولو سره ډېر شهرت لاسته راوړی دئ. په ۲۰۰۶ کال کی د الجزيرې ټلويزيون د امريکې د متحده ايالاتو له پاره په انګرېزي ژبه خپروني پيل کړې. د الجزيرې خبري ايجنسي په انګرېزي او عربي ژبو انټرنيټي پاڼه هم په نړۍ کي ډېره مشهوره ده.

د انټرنيټ له لاري نه يوازي تقريباً آني خبرونو ته لاس رسی سته، بلکي د هغو کسانو شمېر چی له انټرنيټ څخه استفاده کوي په بېساري سرعت مخ پر زياتېدو دئ. د ۱۹۹۰ کال څخه بيا تر ۲۰۰۴ کال پوري د هغو کسانو شمېر چي له انټرنيټ څخه کار اخلي، د نړۍ د نفوسو له ۵٪ څخه ۱۴٪ ته لوړ سو او مجموعي شمېر ئې يو بليون کسانو ته ورسېدی. سربېره پر دې اوس خلک له انټرنيټ څخه په کار اخيستلو سره د اې- مېل له لاري په نړيواله سويه يوله بله اړيکي ټينګولای سي.

## اقتصادي ګلوبلايزېشن:

د هيوادونو تر مينځ اقتصادي تبادلې نړۍ سره نژدې کړې او هيوادونه ئې په اقتصادي لحاظ يو پر بل متکي کړي دي. مهمه خبره دا ده چي د نړيوال تجارت د زياتوالي له برکته د بېلابېلو هيوادونو خلک هم سره نژدې کېږي؛ ځکه چي دوی د تماس او هم د توليداتو له لاري يو له بله سره بلدېږي. ځيني دا ډول تماسونه شخصي بڼه لري؛ بين المللي اقتصاد د دوی د کلتوري تفاوتونو په سره نژدې کولو کي رول لوبوي. د جاپان د خارجي تجارت تر نيمايي زيات د غربي صنعتي هيوادونو سره سر ته رسېږي. د دې دومره پراخ تجارت تأثير و غرب ته د جاپانيانو د نژدېوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په احساس کي ښکاره دئ. د یوې څېړني له مخې، کله چي له جاپانیانو څخه وپوښتل سوه چي آیا دوی و آسیایي او که غربي هیوادونو ته ځانونه نژدې احساسوي، په سلو کی ۵۴ هغو کسانو چي دې پوښتني ته ئې جواب ورکړ، وویل چي دوی ځانونه «غربي هیوادونو» ته نژدې بولي. د دې پوښتني په جواب کي چي ولي دوی ځانونه غربي هیوادونو ته نژدې بولي، په سلو کي ۸۹ جواب ورکوونکو «اقتصادي فعل او انفعال interaction» د دې کار دلیل وباله.

## کلتوري ګلوبلایزېشن:

د نړۍ د مختلفو ژبو، عنعناتو او بېلابېلو کلتورونو انکشاف ځکه منځته راغلی دئ چي انساني ګروپونه یو له بله جلا سره پراته وه. دا عجبه نه ده چي د حمل و نقل او کمیونیکېشن انکشاف یوه اندازه کلتوري امتزاج هم منځته راوړی دئ.

سره له دې چي د جهاني کلتور د مینځته راتلو خبري تر وخت دمخه دي، او ښایي جهاني کلتور اصلا منځته راهم نه سي، مګر همدا اوس په نړۍ کي د کلتوري امتزاج ډېر شواهد وجود لري. د چین لیډرانو یو وخت د «ماوو دریشي» اغوستله؛ اوس غربي طرز دریشي اغوندي. په غیر رسمي وخت کي، دشانګهای، لاګوس او مکسیکوسیټي خلګ، د خپل عنعنوي لباس پر ځای، کاوبای پتلون، ټي شرټ [بې لستوڼي او بې کالره کمیس] او کرمیچ بوټونه اغوندي. تقریباً هر ځای، ځوان نسل و غربي په تېره بیا امریکایي موسیقۍ ته غوږ نیسي.

دمخه تر دې چي د کلتوري امتزاج پر نورو شواهدو وږغېږو، دا یوه خبره باید په پام کي ولرو چي ډېر هغه څه چي موږ د نړیوال کلتور په سترګه ورته ګورو، غربي په تېره بیا امریکایي ریښې لري. د دې معنی دا

